# إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلاَمِ النُّبُوَّةِ الأُولَى: إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ». "یوه له هغو ویناوو څخه چې خلکو ته له لومړي نبوت څخه پاتې ده دا ده: 'کله چې حیا نه کوې، نو هر څه چې وغواړې هغه وکړه

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلاَمِ النُّبُوَّةِ الأُولَى: إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ». "یوه له هغو ویناوو څخه چې خلکو ته له لومړي نبوت څخه پاتې ده دا ده: 'کله چې حیا نه کوې، نو هر څه چې وغواړې هغه وکړه".
[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هغه څه چې له پخوانیو پیغمبرانو څخه یې په اړه خلکو ته وصیت راپاتې دی او د خلکو تر منځ اوړي را اوړي او پیړ پر پیړ یې یو بل ته په میراث پریښی، تر دې چې د دې امت سر ته راورسید دا دی چې، هغه څه ته وګوره چې غواړې ویې کړې، که چیرته داسې یو کار و چې کول یې شرم نه و، نو ویې کړه، او که داسې و چې کول یې شرم و نو پرې یې ږده؛ ځکه چې له بدو کارونو څخه یوازې حیا منع کول کوي، او څوک چې حیا و نه لري، نو په هر بد او ناوړه کار کې ښکیل کیږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4559